مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پښتو ژباړه: رحمت آریا ۲۰۲۲/۱۱/۳۰

د افغانستان سیاسي - تأریخي ژورنال

څلورم ټوک، مزار شریف
او د افغانستان شمال - مرکزي برخې

یوسلو پنځه اویایمه برخه
تصحیحات:
ډاکټر لوډویک ډبلیو آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA
1979

" آسونه په دې ډول په کښتۍ پورې تړل کیږي: هر آس شاتوری او تسمه لري. د منجو یوه غونډه منډه رسۍ د څاروي تر ګیډې لاندې تر تسمې ګردچاپیره تیریږي او دواړه اوږدهٔ سرونه ئـې په ټینګه په شاتوري پورې تړل کیږي. اوږد پای د رسۍ دوه استوی رسۍ جوړوي او په یوې حلقې پای ته رسیږي.دغه حلقه د کښتۍ د بادبان په ستنۍ پورې تړل کیږي؛ که دوهم آس وکارول سي طناب یا رسۍ کې د یوې خوا د بادبان د ستنې په سنجاق کې ده. په دې توګه آس په اوبو کې ځوړند پاتې کیږي او ټول دروندوالی په خپله کښتۍ اخلي. آس باید یوازې ځان پورې وهي او داسې ښکاري چې دا کار په کافي لیوالتیا کوي. هر آس قبضه لري او په لیندۍ وزمه ځای کې د یوهٔ تن له پلوه کنترویږي د دوه وو آسونو لپاره دوه وو تنو ته اړتیا وي. هغه آس چې د کښتۍ په سینې یا پوز کې دی په ډیریو کښتیو کې ښـهٔ ځای کې وي ځکه د بل آس په پرتلې د اوبو له سطحې لږ جګ وي. شک نـهٔ سته چې د دوهم آس رسي باید لنډه وي خو دوی دا کار نـهٔ دی کړی. آسونه خوار څاروي دي خو خپل کار په سمه کوي. هر آس د دې موخې لپاره کارول کیدای سي خو که څاروی د دې کار لپاره وروزل سوی او ورسره عادي سي نو ګټور کار دی. ساحل ته له رسیدلو وروسته آسونه کښتۍ د رسۍ په اوږدو کې بیرته پیل ټکي ته کشوي. د هغو کسانو تر څنګ چې د آسونو کنترول ئـې په لاس کې دی کښتۍ چلوونکی هم په کار دی. دی په خپل ټول قوت او ډیرې انرژۍ سره د کښتۍ ستنه په لاس کې لري. بیخ ته ئـې لاس وروړلای نـهٔ سي یوازې چې د سیند غاړې ته نیږدې سي؛ خو د کښتۍ ستنه لکه د کښتۍ د پارو د ستیرینګ یا شترنګ په توګه کارول کیږي. په دې اړخ کې ټول کښتۍ چلوونکي لکه ټولو نورو خلکو، تورکمنان دي. "

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولـئ

" اوبـۀ اوس (د مې څلورمه) له همدغو تنګیو څخه په ساعت کې د ۴ مایلو په ګړندوالي بهیږي. د اوبو ځواک او قوت د سیند په منځ کې دی په بله وینا د سیند په هاغه بله غاړې کې. یوې کښتۍ چې له دې ځایه خوځښت پیل کړ تقریباً تر نیمایي لارې ئـې ښـۀ پرمختګ وکړ او ورپسې د یو څـۀ واټن په وهلو سره د کلف له کلا ۴۰۰ یارده کښته ځان په ۱۵ دقیقو کې د سیند ښۍ غاړې ته ورساوۀ. په بلې غاړې کې یوې کښتۍ تقریباً د ساعت د ربعې وخت ونیو ترڅو ځان د ۲۰۰ یاردو په واټن د سیند په ښۍ غاړه کې ځان هاغـۀ ډبرین ټکي ته ورسوي او په کار پیل وکړي. کله چې آس اوبو ته ولوید لومړی ورته اجازه ورکړل سوه چې کښته د سیند د اوبو د بهیر په لور کې یوه اوږده لاره ووهي او بیا ئـې هڅه وکړه چې مخه ئـې راتاو کړي. په پای کې زما د کمپ تر ځای نیم مایل کښته له کښتۍ کښته سوو؛ وخت: ۴۰ دقیقې. دلته یو سپک مانو (قایق) وو. دا له بلې غاړې له یوه آس سره رالیږل سوی وو. له هماغـۀ ټکي څخه ئـې کښته خوځښت پیل او د مقابل لوري غاړې ته د کلف له کلا نیم مایل کښته په ۲۰ دقیقو کې ورسید."

" د اپریل په میاشت کې د سیند د اوبو سطحه لوړیږي خو د اوبو د سطحې د لوړیدلو پیلامه په عام ډول د مې د میاشتې په لومړۍ اونۍ کې محسوسیږي. ورپسې د څلورو میاشتو لپاره سیند سیلابي وي یعنی د سپتمبر تر لومړۍ پورې. د سیند د اوبو د سطحې لوړوالی په عام ډول لس فیټه وي. ویل سوي چې زښتې ډیرې اوبـۀ له کلف پورته په تنګیو کې محدوده کیږي، خو ورسره هیڅ کله د کلف شمال کې دښتې ته نـۀ اوړي. د سیلاب پر مهال پورې غاړه تیریدل د اوبو د بهیر د قوت له کبله سخت وي او د کال په نورو فصلونو کې پیاوړي بادونه هم د پورې غاړه تیریدلو لپاره ستونزه جوړوي، د دې ځای هوا هم ډیره له تلاطم او خروښ ډکه ده. "

د ۱۸۸۶ز کال په دوبي کې پیکاک هم دلته ورغلی وو چې د نوموړي شرحه هم د سیلاب د سطحې په هکله په زړه پورې معلومات لري خو هماغسې چې هیله ئـې کیدله او کیږي د سیلابونو سطحې له یوۀ کاله تر بله توپیر مومي.

نوموړی د جون په شپږمه نیټه لیکي: - " د سیند په دواړو غاړو کې کوچني خلیج ته نیږدې هغه تنګي چې د ډبرینو غونډیو له پلوه جوړ سوي دي هماغلته د اوبو د کانال پلنوالی د پروسږ کال په پرتلې ډیر دی او د شمال په ساحل کې او په سویلي غاړې کې د ساحلي غاړې شګلنه ترانګه ټوله اوس تر اوبو لاندې ده. په سیند کې د اوبو سطحه په سویلي ساحل کې یو لږ توپیر رامنځته کړی دی خو په شمالي ساحل کې اوبـۀ د کلف د کلا د غونډۍ په لمن کې د ولاړو ونو تر لمنو پورې رسیدلي دي. په سویلي غاړه کې په خلیج کې د راوتلې ډبرې اړخ ته له خښتو جوړ دیوال باندې د جګو سویو اوبو اندازې ته په کتلو سره قضاوت کولای سم چې د تیر ژمي په پرتلې چې ما دا ځای لیدلی وو اوس د اوبو سطحه له ۴ تر ۵ فیټو لوړه ده. په کلف کې د نورو ځایونو په پرتلې د اوبو د بهیدلو ګړندیتوب ډیر نـۀ دی یعنی کولای سو ووایو چې په ساعت کې ۴ مایله دی او داسې نـۀ ښکاري چې د پروسږ کال د ژمي په پرتلې چې ما لیدلی وو تر دې دې زیات ګړندیتوب ولري. اوس وخت کې یوه کښتۍ په شمالي غاړه کې له ساحلي ژبې څخه خوځیږي او ځای په سویلي غاړې کې د توتو د ونو ډلې ته رسوي. پروسږ کال ژمی کښتۍ په شمالي کې له کوچني خلیج څخه وخوځیدله او ځان ئـې د سویلي غاړې خلیج ته ورساوۀ. دواړه خلیجونه اوس تر اوبو لاندې دي، او هغه کښتۍ چې له سویلي غاړې خوځیږي خپل خوځښت د راوتلې ډبرې له پاسه له شګلن ساحله پیلوي."

نوموړی یوه میاشت وروسته بیا لیکي:-

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

" سیند اوس سیلابي او د اوبو سطحه لوړه ده؛ ورستی ځل چې دلته راغلی وم د تیر جون میاشت وه، اوس د تیر جون د میاشتي په پرتلي د اوبو سطحه ۳ فیټه لوړه ده. په خلیج کي د کښتیو تر کوټي لاندي د دیوال له سره اوبـهٔ ختلي او تر ۳ فیټه تر اوبو لاندي دی. په غیر معمولو درندو سیلابونو کي سیند نور هم ۳ فیټه لوړیږي یعنی د کښتیو د کوټي د برندي د باندني مخ تر غولي پوري رسیږي. د سیند د اوبو بهیر اوس ډیر پیاوړی دی؛ چټکوالی ئـي ۵ مایله په ساعت کي دی. اوس کښتۍ په دوه وو آسونو او پاروګانو، پوري غاړه اوړي او کیني غاړي ته د توتو د ونو له زیارت نیم مایل کښته ورسیده (ما یوه بار وړونکي کښتۍ ولیدله چې د دې غاړي د کوږوالي ټکی ورځخه خطا سو، دا کښتۍ بیا د آق جویي پر لور ۱ مایل کښته لاړه) او هاغه خوا د بخارا غاړي ته لاړه، دا کښتۍ هماغه ساحل ته د کلف له خلیج ۴/۳ مایله کښته ورسیدله. د بخارا په ساحلي غاړه کي اوبـهٔ اوس د کلف تر کلا لاندي د ونو تر بیخ لاندي دي."

پیکاک وایي چې د جولای پر ۱۶ نیټي د اوبو بهیر ډیر ګړندی وو: په ساعت کي ۶ مایله وو او د کانال په منځ کي په هغـهٔ ځای کي د دواړو ډډو چې د اوبو قوتونه سره یوځای کیږي اوبو غړاندي وهلي او په سر را اوښتلي." نوموړی ۱۴ ورځي وروسته په خپل راپور کي لیکي: " د سیند د اوبو سطحه اوس مخ په ټیټیدو ده، زما د وروستي ځل د لیدني په پرتله د اوبو سطحه ۲ فیټه کښته سوي ده." (میتلند، پیکاک)

قپچاق: ۴۸ – ۳۶، ۳۲ – ۶۶ (ن): دا د بلخ او آقچي تر منځ د لاري په اوږدو کي یو کلی دی چې د دواړو سیمو تر منځ لږ و ډیر په عین واټن کي دی.

کشنده: کِشـن دِه: ۷ – ۳۶، ۱ – ۶۷ (ن): *دا د بلخ د ولایت په سویل کي یو کلی او یوه علاقه داري ده. دا علاقه داري ۱۷۹۶ کیلومتر مربع مساحت لري او افغان سرچینو د وګړو شمیر ئـي له ۱۷۵۶۷ څخه تر ۱۹۰۰۰ تنو پوري اټکل کی کړی دی. د دې علاقه داری کرښي: لویدیځ: سنګچارک، شمال: شولګره، ختیځ: د صوف دره او سویل: د بلخ آب ولسوالی ګانی. کَشِن دِه ۶۲ کلي لري چې ۲۹ کلي ئـي له ۵۰۰ ډیر وګړي لري. لنډ مهالي مجلي دغه کلي په لاندي ډول لیست کړي دي:*

بلند اریغ زري	*اریغ سریغ زري*	*تاجیک زري*	*علي بختي زري*
عرب زري	*نو قیچي زري*	*بوري زري*	*بلهاني زري*
قزاق زري	*میرزی زري*	*بلوچ ها*	*میرزا قمر*
پشته کمر	*بدوغ*	*بلوچ زري*	*ګله قدق*
بلوچ بالا	*بلوچ پائـین*	*نو آبادِ بلوچ زري*	*چشمـهٔ ساول*
دل مرَق	*آق ګوهرک*	*بام پشت*	*قریـهٔ للمي*
بابا علي دستم	*سوختـهٔ سفلی*	*سوختـهٔ علیا*	*بابا دستم*
فولاد دستم	*اوتکي امرخ*	*بیزه امرخ*	*نورَکِ امرخ*
قره بای اول	*قره بای دوم*	*زیقوتِ تونج*	*ایر غاني*
خلیفـهٔ تونج	*شیخ های تونج*	*میرزای تونج*	*دِه یکِ تونج*
میان دِهٔ تونج	*چوچلـهٔ تونج*	*اندرابِ تونج*	*سفید خاکِ تونج*
دولت محـمد دستم	*کورپـهٔ قـُرُغ*	*بختاګن امرخ*	*آب پرتاب*
خواجه روشني	*نګاري*	*خیابک*	*مغزار*
سرج نګاري	*خابکِ مغزار*	*مغزار عباس پشته*	*پشته مغزار*
هزار مرادِ مغزار	*چرخ آبِ تونج*	*سر درهٔ تونج*	*اومه کي زري*
قره بای متفرقه	*سرآب*		

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

د کشن ده زیارتونه: خواجه احمد په امرخ کې، چهار اولیاء په چکانـۀ پائـین کې، خواجه بلند د هلکار په غرۀ کې او خواجه روشنـي. د دې سیمې دوه «قدم گاه گانـي» : د حضرتِ داؤود قدمگاه او د حضرت محمد ص د اکا د حضرت عباس قدم گاه.

د دې سیمې غرونه: کوۀ راش، کوۀ المُرتک، کوۀ خوره ایق، کوۀ زله ایق، کوۀ هلکر او کوۀ خواجه روشنـي.

د دې سیمې سیندونه: دریای کشن ده یا دریای دره گز، دریای باجگاه او دریای درۀ صوف.

په دې سیمې کې په دغو نومونو یو شمیر فواري یا د اوبو سرچینې دي: چوچله، فرغان، زلقوت، سر دره، خلیفه تونج، قلعـۀ نورَک او خواجه سکندر.

کشن ده په ۱۹۱۴ز کال کې په لاندې ډول شرحه سوې ده:

د صوف دره د چپچل له منځغري کښته د مایل د ۴/۳ واټن په اندازې پلنه او مخ خلاصې کیږي او یو بستر ورڅخه جوړیږي ؛ دا بستر ۳ مایله اوږدوالی لري. دغه ځای د کشن دۀ بالا په نامـۀ یادیږي چې ډیره کرهنه په کې سوې ده او د قبچاقانو ۲۷۰ کورنۍ په کې استوګنې دي. کشن ده بالا د یوۀ منځغري له لارې چې یو مایل اوږدوالی لري له کشن ده پائـین سره نښلي. کوزه دره تقریباً ۱ مایل پراخه او ۲ یا ۳ مایله اوږده ده او په کشن ده پائـین کې د قبچاقانو ۱۳۰ کورنۍ ژوند کوي. (اي. بي. سي.) کشین ده پائـین په ۹- ۳۶، ۵۶ – ۶۶ (ن) کې واقع ده.

قشلاقِ کهت: گل قشلاق: ۱۶ – ۳۶، ۵۹ – ۶۷: دا هغه کلی دی چې په ۱۸۸۶ز کال کې د دې کلي اکثریت کورونه وران او متروک سول، دا کلی د ایبکو د شمال لویدیځ په ۲/۱ ۳ مایلۍ کې واقع دی. دلته د کمپ لپاره ښـۀ ځای سته چې حضرت سلطان ته د تللي لارې په اوږدو کې د یوۀ مایل په اوږدوالي موجود دی. (میتلند) *اوسنۍ نقشې دا نوم د گل قشلاق په ډول ښیي.*

قشلاقِ خواجه: ـ ۳۶ ، ـ ۶۸ : دا ایبکو ته نیږدې یو کلی دی چې د کته علي وزبیکانو ۴۰ کورونه لري. (میتلند)

قشلاقِ کوغي نال: قوچ نهال: ـ ۳۶ ، ـ ۶۷: دا په ایبکو کې د استوګنې یوه سیمه ده چې د تاشقرغان د سیند په ښۍ غاړه کې واقع او د هزاره گانو ۱۳۰ کورنۍ په کې ژوند کوي. دا خلک ځمکې نـۀ لري، دوی د پسونو څښتنان دي او د نورو خلکو لپاره کار کوي. (میتلند) *اوسنۍ نقشې د قوچ نهال نوم په ۱۶ – ۳۶، ۵۷ – ۶۷ (ن) کې ښیي.*

قشلاقِ سرتیپ: ۱۸ – ۳۶، ۵۷ – ۶۷: دا د تاشقرغان د سیند پر غاړه د ایبکو د شمال لویدیځ په ۶ مایلۍ کې د استوګنې یوه سیمه ده چې د وزبیکانو او تاجیکانو ۱۰۰ کورنۍ په کې میشتې دي. د ۱۲ فیټو په ارتوالي او ۶ فیټو په ژوروالي یو نهر له هغـۀ ټکي څخه تیریږي چې د ایبک – غزنیگک لاره د قشلاق لویدیځ گوټ ته رسیږي. (میتلند)

قشلاقِ استاد: ـ ۳۶ ، ـ۶۷: دا د ایبکو د شمال لویدیځ په تقریباً ۵ مایلۍ کې د استوګنې یوه سیمه ده چې له تل قشلاق سره په گډه ټولټال ۱۰۰ کورنۍ په کې استوګنې دي او دوی د کته علي وزبیکانو له ځانگې څخه دي. (میتلند)

* **قشلاقِ مـَد امان خان**: قشلاقِ محمد امان خان: ۱۸ – ۳۶ ، ۵۷ – ۶۵ (ن): دا د سرپل د شمال په تقریباً ۷ مایلۍ کې یو کلی دی.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

* **قشلاقِ سید اعظم**: ۷ ـ ۳۶، ۴۳ ـ ۶۵ (ن): دا د «دَر- ی- بند[1]» په تنګي کې د سرپل د لویدیځ ـ سویل لویدیځ په تقریباً ۱۵ مایلی کې یو کلی دی.

قزل بولاق: ۳ ـ ۳۶ ، ۳۹ ـ ۶۵: دا یو سیند دی چې سرچینه ئې د سرپل د علاقه داري په قرچي کې واقع او د «قره پَـه[2]» نامـۀ یادیږي. د دې خوړ یا سیند ګې په اوږدو کې یوه لاره تللې چې د «قره خوال» له کلي څخه تیریږي او بیا شمال لویدیځ خوا سرپل ته ځي. دره له کلي نیم مایل کښته تنګه کیږي او په یوۀ منځغري اوږي چې په ځینو ځایونو کې له ۱۰ یارده ډیر ارتوالی نـۀ لري، ورپسې د ۳۰۰ یاردو په پلنوالي لوییږي او له کلي څخه په شپږم مایل کې یو ځل بیا تنګه کیږي. دا منځغري په یوۀ ډبرین دیوال بندیږي چې د درۀ بند په نامـۀ یادیږي. (اې. بي. سي)

* **قزل آباد**: ۴۳ ـ ۳۶، ۱۲ ـ ۶۷ (ن): دا د مزار شریف د ختیځ په تقریباً ۵ مایلي کې د تاشقرغان د سړک پرغاړه یو کلی دی.

قزل ایاق: ـ ۳۶، ـ ۶۵: د د نهرمګزوم پر غاړه د آقچې د شمال لویدیځ په څو مایلی کې یو کلی دی چې د ارسري تورکمنانو ۶۰ کورونه په کې ودان دي. (اې.بي. سي.) *اوسنی نقشې د قزل ایاق خورد او کلان په نومونو ځایونه د شبرغان په شمال لویدیځ کې په ۵۱ ـ ۳۶، ۴۱ ـ ۶۵ (ن) کې ښیي.*

قزلجه: قزل جاه: ـ ۳۷ ، ـ ۶۶: دا د خواجه سالار په ولسوالی کې یو ښارګوټي دی. (وګورئ ۴۴۱ پاڼه)

قزل قلعه: ۵۰ ـ ۳۶، ۴۲ ـ ۶۶ (ن): دا د نهرِ شرشرک پر ښی غاړه باندې یو کلی دی چې د بلخ د شمال لویدیځ په ۱۲ مایلی کې موقعیت لري. د میتلند د معلوماتو له مخې دې کلي کې د وزبیکانو ۱۰۰ کورنی ژوند کوي؛ خو پیکاک وایي چې د وزبیکانو ۸۰۰ کورنی دلته ژوند کوي. (اې. بي. سي.)

قزل کند: ۱۴- ۳۶ ، ۵۳ - ۶۶ (ن): دا د آق کپروک په ولسوالی کې یو کلی دی چې د بندِ امیر د کینې غاړې په اوږدو کې د نیم مایل په واټنِ غځېدلی دی. دې کلي کې د وزبیکانو ۱۰۰ کورنی ژوند کوي. له دې ځایه یوه لاره ختیځ لور کې غرونه ته تللې او ښایي «دالان[3]» او «سه دري[4]» ته تللې وي. (میتلند) *دا کلی د آق کپروک د شمال په تقریباً ۱۵ مایلی کې واقع دی.*

قزل قشلاق: ۵۹ ـ ۳۵، ۲۲ ـ ۶۵ (ن): دا د میمنې د قرچي د علاقه داری د بلچراغ په ویش کې یو کلی دی چې د «غوزاري وزبیکانو[5]» ۲۰ کورنی په کې ژوند کوي. (میتلند) *دا کلی د درزآب په چم ګاوند کې دی.*

قزل کوتل: وګورئ: خواجه عثمان

قزل سو: ۴۴ ـ ۳۵، ۲۲ ـ ۶۴ (ن): دا میمنې د قیصار په علاقه داری کې یو کلی دی چې د بره غان په تنګي کې (د نارین سویل کې) کې واقع او د اونګه جیت وزبیکانو ۳۰ کورنی په کې ژوند کوي. (اې. بي. سي.)

---

[1] - Dar -i -Band glen
[2] - Karapa
[3] - Dalan
[4] - Seh Dara
[5] - Ghozari Uzbaks

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

قزل تپه: ۵۲ – ۳۵، ۵۱ – ۶۴: دا د میمني د سویل ختیځ په تقریباً ۵ مایلي کي په «دره سِل[6]» کي یو کلی دی چي د شاه کامني وزبیکانو ۲۰ کورونه په کي دي. (امیر خان، شهزاده تیموس) *اوسنی نقشي یو بل کلی چي د قزل قول په نامهٔ یادیږي تقریباً ۳ مایله سویل ختیځ ته ښیي.*

* **قزل توگرک**: ۲۶ – ۳۶، ۴۳ – ۶۶ (ن): دا د بوینقري د لویدیځ په ۱۲ مایلی کي یو غر او او یو تنگی دی.

* **قزل قلعه**: ۰ – ۳۶، ۳۸ – ۶۵ (ن): دا په «دیگ دري[7]» کي د «گنده بلند[8]» د سویل ختیځ په تقریباً ۷ مایلی کي یو کلی دی.

* **کوچک قزل**: ۱۳ – ۳۶، ۴۱ – ۶۶ (ن): دا د آق کپروک د شمال لویدیځ په ۱۵ مایلی کي یو کلی دی. په دي نامهٔ بل کلی تقریباً ۲ مایله وړاندي شمال لور کي دی. د دي سیمي په چم گاوندِ کي په دي نامهٔ ځو ځاه گاني هم سته.

* **کوگل ساي**: ۸ – ۳۶، ۴۶ – ۶۶ (ن): دا د آق کپروک د شمال لویدیځ په تقریباً ۷ مایلی کي یو کلی دی.

کوهي: ۴۲ – ۳۵، ۱۸ – ۶۴ (ن): دا د میمني په علاقه داری قیصار کي یو کلی دی چي د کوهي اونگه جیت وزبیکانو ۲۵ کورنی په کي ژوند کوي. (اي. بي. سي.) *دا کلی د قیصار د شمال ختیځ په ۳ مایلی کي واقع دی. افغان گزیتر په دي نامهٔ بل کلی د میمني د سویل په ۱۹ مایلی کي په ۵۰ – ۳۵، ۴۷ – ۶۴ (ج) کي ښیي.*

کوهٔ: هغه نومونه چي په کوه پیل کیږي د ورپسي نامهٔ لپاره د فارسي یو اضافت ورزیاتیږي چي د دوهم نوم مشخصات روښانه کړي.

* **کهنه بازار**: ۱۶ – ۳۶، ۵۶ - ۶۵: دا د سر پل د شمال په تقریباً ۵ مایلی کي او شبرغان ته د تللي لاري په ختیځ کي یو کلی دی.

کهنه قلعه: ۵۹ – ۳۶، ۹ – ۶۵ (الف) دا د میمني د شیرین تگاو په علاقه داری کي یو کلی دی چي د وزبیکانو ۴۰ کورنی په کي میشتي دي. (اي. بي. سي.) *اوسنی نقشي په دي نامهٔ بل کلی د اندخوی په شمال ختیځ کي په ۵۹ – ۳۶، ۸ – ۶۵ (ن) کي ښیي.*

* **کهنه خلم**: ۴۶ – ۳۶، ۴۳ – ۶۷ (ن): دا د تاشقرغان د شمال په تقریباً ۴ مایلی کي یو کلی دی.

کوه رساي: ۴۳ – ۳۵، ۴۹ – ۶۷ (ن): دا یو خوړ دی چي د شمس الدین کوتل په لویدیځ کي له غرونو سرچینه اخلي او د مچي تنگي له لاري د هزار سم دري ته ننوځي. (اي. بي. سي.)

کوین لي: ۲ – ۳۷ ، ۵۸ – ۶۵ (الف) دا د خواجه سالار د ولسوالی د خمیاب په ویش کي یو ښارگوتی دی. (اي. بي. سي.) *دا نوم همدا شان د کوینلي او قولي په ډول لیکل سوی دی.*

کک آباد: ۵۷ – ۳۶، ۳۳ – ۶۶ (ن): دا د بلخ په شمال لویدیځ کي یو کلی دی چي د نهر چاربولک پر غاړه واقع او ۵۰ کورنی په کي ژوند کوي چي عمدتاً ارسري وزبیکان دي. (اي. بي. سي.) *دا کلی د دولت آباد د سویل لویدیځ په تقریباً ۲۲ مایلی کي واقع دی.*

---

[6] - Dara Sel
[7] - Dig Dara
[8] - Ganda Beland

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

کوکه بولاق: ۲۹ ـ ۳۶، ۱ ـ ۶۸ (ن): دا د غزنیگک له کلي څخه تر رباط پورې د تللي لارې په اوږدو کې د دمې نیولو ځای دی. دا ځای د اوبو د چینې په توګه تشریح سوې چې په شاو خوا کې پریمانه واښـهٔ لري. همدا شان کیدای سي دلته

سون لرګي هم وي خو دائم استوګني څوک په کې نـهٔ سته او نـهٔ د اړتیا وړ توکي ورڅخه ترلاسه کیدای سي. باور دا دی چې دا ځای له غزنیگک څخه ۱۳ یا ۱۴ مایله لیرې دی او همدومره واټن له حضرت سلطان څخه لیرې دی. (ای. بي. سي. له بومي معلوماتو څخه) *دا کلی د خلم له سویل ختیځ څخه ۲۰ مایله واټن لري.*

* **کوک بوینق**: ۴ ـ ۳۶ ، ۳۵ ـ ۶۵ (ن): دا د ګنده بلند د سویل په ۱ مایلی کې یو کلی دی.

* **کوکجار**: ۲۱ ـ ۳۶، ۵۵ ـ ۶۷ (ن): دا د دالخاکي د لویدیځ په تقریباً ۲ مایلی کې د سنګچارک د سیند پر غاړه د تاشقرغان او ایبک د لارې په اوږدو کې یو کلی دی.

کوکل داش: ۴۸ ـ ۳۶، ۲۰ ـ ۶۶ (ن): دا د بلخ په لویدیځ کې د فیض آباد د نهر پر غاړې یو کلی دی، چې د وزبیکانو ۲۰۰ کورنۍ په کې ژوند کوي. (ای. بي. سي.) *دا کلی د آقچې د سویل ختیځ په تقریباً ۱۴ مایلی کې واقع دی.*

قل: کل: ـ ۳۶، ـ ۶۸: آبِ قل د خرم او ایبکو تر منځ نیمایي لارې کې له ایبکو ۱۲ مایله لیرې یو تش ځای دی او د تاشقرغان د سیند په اوږدو کې موقعیت لري. دره دلته ۵۰۰ یارده پراخه ده. ویل سوي چې دا د خرم او ایبکو تر منځ د کمپ لپاره تر ټولو ښـهٔ ځای دی. دا ځای د خیرباغ په نامـهٔ هم یادیږي. (میتلند)

کلابي: قلعه بای: ۱۴ ـ ۳۶، ۳۴ ـ ۶۶ (ن): دا د دریو یا څلورو څاه ګانو نوم دی چې تروې اوبـهٔ لري خو د څښاک وړ دی او د مزارشریف ـ سرپل د قافلې لارې په اوږدو کې دي. (امام شریف) *اوسنۍ نقشې دا نوم د قلعه بای په ډول د شولګرې د سویل لویدیځ په تقریباً ۵۰ مایلی کې ښیي.*

* **کمک منصور**: ۵۳ ـ ۳۶، ۱۱ ـ ۶۶ (ن): دا د آقچې د سویل په تقریباً ۳ مایلی کې یو کلی دی.

* **کمک عمر خان**: ۵۲ ـ ۳۶ ، ۱۴ ـ ۶۶ (ن): دا د آقچې د سویل ختیځ په تقریباً ۳ مایلی کې یو کلی دی.

کـُـپـَـک: ۳۲ ـ ۳۶، ۵۶ ـ ۶۷: د غزنیگک د دښتې تر ختیځ، شمال او لویدیځ دنګ، ستوغ او ډبرین غرونه راتاو دي چې په ډیرې سختۍ ورته لاسرسی کیږي. خو ښې لاس ته د دغو غرونو سر ته یوه لاره ختلې ده او دا لاره د کپک د کوتل له لارې ورختلې ده همدا لاره بیا انګه ریق ته تللې ده، انګه ریق د تاشقرغان د ختیځ په ۱۲ مایلی کې موقعیت لري. دا لار ځکه اهمیت لري چې د «سای ات تنګي[9]» ته ورتاوییږي او له منځه ئـې د کابل ـ ایبک ـ مزار شریف سړک تیریږي. ویل سوي چې کوتل سخت دی، آس سپارهٔ د ختلو پر مهال باید د آس له سره کوز سي.

خو دا یوه ډیره ښه په نښه سوې لاره ده او باید ډیر کار ورڅخه واخیستل سي. (ای. بي. سي، له بومي معلوماتو څخه)

* **قورغی**: ۱۷ ـ ۳۶ ، ۵۳ ـ ۶۴ (ن): دا د رحمت آباد د سویل په تقریباً ۲ مایلی کې په شیرین تګاو کې یو کلی دی.

* **قریش**: ۲۶ ـ ۳۶ ، ۵۵ ـ ۶۴ (ن): له اندخوی څخه تر رحمت آباد پورې د لارې په اوږدو کې د شیرین تګاو په تقریباً ۳ مایلی کې یو کلی دی. په دې نامـهٔ بل کی د قوزي بای قلعه په تقریباً ۲ مایلی کې واقع دی.

[9] - Saiat Tangi

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

کورک: ۱۸ – ۳۶ ، ۵۲ – ۶۵ (ن): دا د اساسي دري په کين اړخه کي د سرپل له ښارګوټي څخه ۹ مايله کښته (شمال لور ته) يو کلی دی او د شبرغان د سويل – سويل ختيځ په تقريباً ۳۰ مايلی کي موقعيت لري. دې کلي کي د اچه ميلي وزبيکانو، د هزاره ګانو او نورو ۸۰ کورنۍ استوګنې دي. (امير خان، شهزاده تيموس)

کران: ۵۵ – ۳۵، ۳۱ – ۶۶ (ن): دا د سنګچارک په ولسوالی کي يو کلی دی چې د اله غان تګاو پر غاړه واقع او د دايزنګي هزاره ګانو ۵۰ کورنۍ په کي ژوند کوي. (اې. بي. سي.)

اوسنۍ نقشې دا نوم د کران په ډول د توکزر د سويل ختيځ په ۱۸ مايلی کي ښيي.

نوربيا

کورشنګي: قور چنغي:

يادونه: قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لينک لاندی د ښاغلی آريا صاحب په آرشيف کی د لمړی ټوک، دويم ټوک او دريم ټوک ټولي برخي لوستی شئ.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ